دمحمدعمر ننگیار لیکنه

پردی ړیره

دځوانۍ د لیوني شوق له مخې به مې کله ړیره پرېښوده او ځیني وخت به مې بیا وخریوله.ړیره مې خپله وه واک یې هم زما خپل و دبل چا ورسره کار نه وو له بده مرغه راغلي هغه شپې او ورځې چې واکونه پردي شول ورسره جوخت ړیره هم پردۍ شوه.زه هم دخپلې ګرانې ړیرې سره پردی شوم،مونږ په خپلو کې بې باوري شو،زه نه هر څوک د خپلې ړیرې ویریده چا ورته لاس وروړی نشو،ډېره موده تېره شوه ړیره مې ښه ببره شوی وه ،داچې څو ځلی پرې ډېبول شوی وم ګوتې مې وروړی نشوی،دننه په کې جوپه جوپه ځارونکي ګرځېدل کله به یې چې زما دمخ په وچ پوټکي غاښ ښخ کړ، هنداره ته به ودرېدم ګوتې به مې ورنژدې کړې چې به مې کاټه ښکرونه به یې شخ کړل او خبرداری به یې را کړ چې هلکه خپل حد او حدود وپېژنه ژر به مې ترې ګوتې لرې کړې او ورته به مې وویل:معافي غواړم... ښه اشتیا.

نور نو دې وضعیت دوه سپېړمو ته را وستی وم په خوب او په ویښه مې چاره لټوله. یوه شپه چې په همدې چرتونو کې ورک شوی وم دسلماني په هټۍ کې مې ځان بیاموند.هلته د هنداري مخې ته په څوکۍ ناست وم او دخپلې جاړې پاړې ړیرې او هلته پکې مې د خوارو وړو ځناورو وروستی دیدن کوه چې خلیفه سلماني راباندې غږ کړ:

-امر وکړۍ.خیرنه خړه ټوټه یې د غاړې را تاوه کړه.اوبیا یې په مهربانۍ وویل:

-قربان دسر ویښتان دې ماشین کړم که یې په چاړه وخریم؟

شاو خوامې وکتل او بیا مې په قراره ورته ړیره وښودله په زارۍ مې ورته وویل:

-خلیفه جانه !نوره یې نشم ساتلی،وګوره چې په کې څه اندوخر دی ګوتې وروړی نشم....وچ یو ټکی مې پر مخ پاتې دی...پاک یې په چاړه وخریوه چې....

خبره مې لا تمامه کړې نه وه چې خلیفه سلماني غږ کړ،خیر کړې خدایا،څه آورم؟خپل شاګرد ته یې غږ کړ:

-هلکه آوری ؟! لکه چې مرګی په مخه کړی دی.څه چې ورسره مونږ خراب نشو.

همدا یې وویل د دکان د دروازې لوري ته یې منډه کړه، شاګرد یې هم لکه کارتوس ورپسې والوت،زه پاتې شوم او دکان،ژر خپله لاس په کار شوم ړیره مې ښه په مزه پسته کړه او بیا مې لکه خوني دښمن چاړه پرې راښکله چټه پټه مې وخریوله او د خپلو پهره دارانو سره مې یوځاې په یوه اخباري کاغذ کې تاوه کړه په همدې کې وم چې خلیفه سلماني او څو سرکاري کسان راورسېدل دوی چې د قهره شنه اوښتي وو په لوړ غږ یې تپوس وکړ:

-څه شو؟...

شاوخوایې وکتل زه یې تر سترګوشوم ما کې نوره سا ورکه وه د دوی په کتو کې مې خپله سزا ولیده ژر مې په اخباري کاغذ کې را ټوله شوې ړیره ورته وښوده په زارۍ مې ورته وویل:

-دخدای دپاره نور مې ساتلی نشوه ما ویل چې درویسپارم،وګوری،ډکې په ډکې یې وشمېرۍ ټوله پوره ده....

ما لا خپلې خبرې پوره کړې نه وې چې د سوک څپېړې او کنداغونو باران راباندې جوړ شو.ما چیغې کړې دخپلو چیغو په هیبت د خوبه را ویښ شوم په خپلو خولو کې لوند خیشت وم ژر مې په مخ لاس تېر کړ ړیره مې پر مخ وه،شکر مې ویسته او پاک خدای ج ته مې د دوعا لاسونه پورته کړل چې د ړیرې واک مو خپل شي.

پای